مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد معصوم هوتک ۲۰۲/۰۹/۰۲

# خواجه ابوالقاسم احمد بن حسن میمندي

## او د پښتو الفبې په ترتیب یا سمون کي د هغه ونډه

## دوهمه برخه (تکمله)

د سږ کال د جولای په وروستۍ اونۍ کي مي د خواجه احمد بن حسن میمندي ( میوندي) په باب یوه لنډه تحقیقي لیکنه په افغان جرمن ویبپاڼه کي خپره کړه. د لیکني تر خپرېدو وروسته ښاغلي جهاني صاحب هم پر همدې موضوع خپل نظریات نشر کړل او په هغو کي ئې د پښتو الفبې د اصلاح یا ایجاد په کار کي د حسن میمندي پر نقش خپل نه موافقت بیان کړی دئ. د پښتو الفبې د ایجاد یا سمون په کار کي د یوه روایت پر بنیاد د خواجه احمد بن حسن میمندي د نقش په باب ما (هوتک) پخپله تېره لیکنه کي پر موجودو اسنادو او روایتو باندي نسبتاً تفصیلي خبري کړي دي او یو وار بیا وایم چي د پښتو الفبې د ایجاد یا سمون په باب د خیراللغات د مولف همدا یو بې حوالې روایت ما ته معلوم دئ چي که څه هم ارواښاد عبدالحلیم اثر د پښتو ادب په ۳۹ مخ کي ددغه روایت حواله د مرآت الانساب بحث افاغنه ته ورکړې ده[1] خو زما شخصي نظر دا دئ چي ددغه روایت صحت او سقم نوري څېړني ته اړتیا لري او وروستي حکم او فیصلې ته به د نورو مدارکو تر موندلو پوري انتظار باسو. اوس د همدې یوه روایت د تایید یا رد له پاره کافي دلایل نسته او زموږ مشران پوهان هم په دې باب غوڅي فیصلې ته رسېدلي نه دي. البته د پښتو الفبې د ایجاد په هکله د بایزید روښان د ادعا پر مسئله ما (هوتک) د بشپړخیرالبیان په سریزه کي اوږده څېړنه کړې ده چي که چا لوستلې وي، د نوري لیکني اړتیا به احساس نه کړي[2].

ښاغلي جهاني صاحب په خپله دغه وروستۍ لیکنه کي د خپل شکاک عادت له مخي یو لړ نوري توضیح طلب مسئلې رامنځ ته کړې دي چي غالباً به ئې مراد له ګمراهۍ څخه د راتلونکو ځوانانو ژغورل وي. خو له بده مرغه څېړنه ئې ماته تر سر تېره کړې معلومېږي او غواړم په همدې تر لاس لاندي لیکنه کي پر همدغو مسئلو مکث وکړم.
لومړۍ ټکی چي ښاغلی جهاني صاحب ئې په څرګند یا ناڅرګند ډول مشکوک ګڼي، د میمند او میوند مسئله ده. دی لیکي :" زه نه پوهېږم چي د حسن میمندي لپاره ولې میوندي نوم غوره سوی دی". وروسته ئې د حدودالعالم، مسالک والممالک او تاریخ بیهقي حوالي هم راوړي دي او دده په نزد ئې ثابته کړې ده چي حسن میمندي د کندهار د میوند نه وو او په دې برخه کي لیکي چي" زه پرته د نومو د مشابهت څخه بل هیڅ دلیل نه وینم." د " بل هیڅ دلیل نه وینم" قاطع حکم ما اړباسي چي موضوع یو څه هر اړخېزه وڅېړم او وښیم چي د احمد بن حسن له نامه سره د " میمندي" له لقب څخه مراد همدا د کندهار میوند ته انتساب دئ.

په دې کي به زما په خیال هیڅوک شک نه لري چي خواجه ابوالحسن د " میمندي" په لقب غوره کولو سره غواړي وښيي چي دده اصلي مېنه او ټاټوبی " میمند" نومېدئ. دده معاصرینو شاعرانو چي دده په باب کومي مدحي ویلي دي، په هغو کي ئې هم دده نسبت له میمند سره ښللی دئ.

فرخي سیستاني ( ۳۷۰ ـ ۴۲۹هق) په یوه درنه قصیده کي چي عنوان ئې د چاپي دیوان د متن له مخي" در ذکر مسافرت از سیستان به بُست و مدح خواجه منصور بن حسن میمندی" دئ او مطلع ئې دا ده:

چون بسیج راه کردم سوی بُست از سیستان
شب همی تحویل کرد از باختر بر آسمان

داسي وایي:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

من بدين راه طلسم آگين همی کردم نگاه
از تفکر خيره مانده همچو شخص بی روان
باد ميمند آمد و ناگه برويم بر وزيد
خال و زلف از بوی او همشکل شد با مشک و بان
چون مرا ديد ايستاده بر کنار رودبار
گفت ای بی معنی سنگين دل نا مهربان
خوجه آن خوبی که در ميمند با تو کرد باز
چون نباشی بر ثنايش اين زمان همداستان
گفتم : ای باد! اينک آنجا رفته خواهم پيش او
تو مرا از شاعر نا شاکر فضلش مدان
باد و من هر دو سوی ميمند بنهاديم روی
و افرين و ياد کرد خواجه هر يک بر زبان
آفرين [ای] خواجه منصور حسن فخر زمين
آفرين [ای] خواجه منصور حسن فخر زمان
(الخ)

ابوالقاسم حسن بن احمد عنصری بلخی ( ۳۵۰ــ ۴۳۱هق ) په ميمند کي د خواجه ابوالقاسم احمد بن حسن ميمندی د باغ او مانۍ په توصيف کي يوه اوږده قصيده لري چي مطلع ئې ده:

بهار زينت باغی، نه باغ بلکه بهار
بهار خانه مشکوی و مشکبوی بهار

ددې قصيدې پنځه پنځوسم او شپږ پنځوسم بيتونه داسي دي:

بدين صفات به ميمند باغ خواجه ماست
که کدخدای جهانست و سيّد احرار
عميد دولت ابوالقاسم احمد بن حسن
که هست طاغت؟ او بر سرِ زمانه فسار

دغه ميمند چي فرخي سيتاني او عنصري بلخی ئې د احمد ميمندي په ارتباط نوم اخلي چيري دئ؟
د ميمند په نامه موږ ته د جغرافيي کتابو او قاموسو څو ځايه را ښوولي دي چي زه به ئې د لغتنامه دهخدا او نورو ماخذو له مخي دلته معرفي کړم:

لومړی ميمندد پارس د اردبيل[3] لويديځ ته د يوه کلي نوم دئ.
دوهم ميمند د پارس بندر عباس ته نژدې يو کلی دئ.
دريم ميمندد يزد[4] له کليو څخه يو کلی دئ.
څلرم ميمند هم په يزد کي بابک ښار ته نژدې پروت دئ.
پنځم ميمند د پارس د فيروز آباد[5] يو ښارګوټی دئ.
شپږم ميمند بهبهان[6] ته نژدې واقع دئ.
اووم ميمند د غزني له مضافاتو څخه يو کلی دئ. غياث اللغات ، برهان اللغات او ناظم الاطباء ئې هم د غزني له مضافاتو څخه بولي. په لغتنامه دهخدا کي مولف پر دغو قولونو باندي ادا هم زياته کړې ده چي " نام قريه ای به غزنه ميان باميان و غور و احمد بن حسن ميمندی وزير سلطان محمود غزنوی از آنجاست ." تر دې وروسته ئې کښلي دي چي" موضعی است به غزنين و ازآنجا بوده خواجه احمد حسن ميمندی وزير سلطان محمود که عنصری در تعريف باغ و خانه او قصيده ای ساخته ...." له مضافات څخه مراد توابع دئ. يعني د غزني له مربوطاتو څخه دئ. يا ئې تر حاکميت لاندي دئ. د غزنويانو په دوره کي بُست هم د غزني له توابعو څخه وو.د عنصري له قصيدې څخه تاسي ښاغلو لوستونکو هغه بيت زما په همدې ليکنه کي ولووست چي په ميمند کي ئې د خواجه احمدبن حسن ميمندي د باغ او مانۍ يادونه پکښې کړې ده.

اوس به نو وګورو چي خواجه حسن ميمندي په دغو اوو ميمندونو کي د کوم ميمند وو او په کوم ميمند کي ئې باغ او مانۍ ودانه کړې وه؟


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

د غزنو یانو په دوره کي د پارس هغه برخي چي لومړي شپږ میمندونه پکښي واقع دي، د غزني په مضافاتو کي نه راتللي. په دغو مضافاتو کي یوازنی میمند چي شامل وو، هغه اووم میمند وو چي د لغتنامه دهخدا مولف ئي د خواجه احمد میمندي ټاټوبی بولي. د غزني په مضافاتو کي د کندهار له اوسني میوند پرته بل میمند یا میوند نسته چي موږ دي ئي د خواجه احمد بن حسن ټاټوبی وګڼو. ځیني شکاکان به د علي اکبر دهخدا نقل قول هم جعلي او بي سنده وبولي، راسئ چي د تاریخ بیهقي هغه صفحي ته مراجعه وکړو چي ښاغلي جهاني صاحب هم له هغي څخه یوه برخه یعني " و امیر رضی الله عنه روز دوشنبه بیست و پنجم ماه ربیع الآخر بسوی یمن اباد و میمند رفت ... امیر بدان بناهای پادشاهانه که خواجه احمد حسن ساخته است ، رحمه الله ، بمیمند بماند. ص ۶۳۱"راخیستي ده. (د تاریخ بیهقي کوم چاپ چي ماته پروت دئ، دغه صفحه ۶۸۱ ده.) که ښاغلي جهاني د همدې وروستی جملي په ادامه متصله جمله هم راخیستي وای، د شک له پاره به ئي اړتیا نه وای احساس کړې. د هغي جملي په ادامه راغلي دي : " و روز چهارشنبه چهارم جمادی الاولی به کوشک دشت لگان باز آمد". له دغه میمند څخه چي خواجه احمد حسن پکښي پادشاهي مانۍ ودانۍ کړي وې، امیر نهه ورځي وروسته په "دشت لګان" کي دئ . که د" بمیمندبماند" فقرې ته ځیر سو، ښایي " دشت لګان" ته د امیر د رسېدو ورځي تر نهو ورځو لږ وي. " دشت لګان" به په اوو میمندونو کي کوم میمند ته دومره نژدې وي چي امیر دي په ځلورو پنځو ورځو کي ور ورسېږي؟ دا میمند له اوسنی میوند پرته بل ځای نسي کېدلای ځکه "دشت لګان" د اوسنی لښکرګاه ښار یوه ناحیه ده چي " کارته لګان" ورته وايي او د بُست د شمال په ۷ ـ ۸ کیلومتري کي د هیلمند رود پر غاړه پروت دئ. عنصري بلخي د سلطان محمود غزنوي په مدح کي یوه قصیده لري چي یوویشتم بیت ئي داسي دئ:

بفر قصر تو شد خوب همچو عقد بدر
هوای بُست و لب هیرمند و دشت لکان

ددي قصیدي مطلع په دي ډول ده:

چو تن به جان و به دانش دل و به عقل روان
فروخته است زمانه به دولت سلطان

پر فرخی سیستاني باندي چي د بُست په شاوخوا کي د میمند باد مونښلي او وايي:

من بدین راه طلسم آگین همی کردم نگاه
از تفکر خیره مانده همچو شخص بی روان
باد میمند آمد و ناگه برویم بر وزید
خال و زلف از بوی او همشکل شد با مشک و بان

دغه ځای له " دشت لکان" څخه یوه ناره لیري دئ.
د همدې قصیدي اتلسم او نولسم بیتونه داسي دي:

اندرین اندیشه بودم کز کنار شهر بست
بانگ آب هیرمند آمد بگوشم ناگهان
منظر عالی شه بنمود از بالای دژ
کاخ سلطانی پدید آمد از دشت لکان

له دي څېړني څخه په واضح ډول څرګندېږي چي د خواجه ابوالحسن ټاټوبی ( میمند) اوسنی میوند دئ چي د هیلمند ولایت د مرکز (لښکرګاه) له دشت لګان څخه د دوو درو ورځو پلي مزل په اندازه لیري پروت دئ.

دا چي ولي میوند په میمند اوښتی دئ، ژبني دلایل به ئي هم د خپلو معلوماتو په محدوده کي درته بیان کړم.
په پارسي ژبه کي زیاتره نومونه د عربي صرف پر اصولو باندي تصریف سوي او تحریف سوي وي. زیاتره سیمه ییز نومونه د عربیت او پارسیت تر اغېزې لاندي له خپل اصلي حالت څخه وتلي وي. د کندهار د کلیو په نومونو کي دغه راز مثالونه د اند د پاسه دي. ( روربات ـ روح آباد، شالمار ـ شعله ماه، سپیروان ـ سفید روان ... او نور) د میوند او میمند په نومونو کي د میم او واو ابدال پېښ دئ. دغه راز غیر معمول ابدال ته د عربي ژبي صرفیون " شذ العرف" وايي. "شذ" ( د شین په زوَر او د دال په تشدید) ئي په قاموسو کي په " سخنی که برخلاف و قاعده گفته شود" معنا کړی دئ. شذوذ ئي جمع ده او په مشتقاتو کي ئي " شاذ" د نادِر په معنا عامه مروجه کلمه ده.دغه راز بي قاعده ګیو ته د مورفولوجي ( علم الصرف)په علم کي انامَلي (Anomaly) وايي چي انګرېزي قاموسو په (Abnormality) معنا کړې ده. په عربي ژبه کي د میم او واو د ابدال په مثالو کي " فم" راوړي چي د جمع شکل ئي " افواه" او د "فم" میم په واو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

اوښتی دئ. دغه ابدال ځکه غیرمعمول دئ چي د عربي ژبي د قواعدو پر خلاف ئي د مفرد ټول اوازونه په جمع کي نسته. د منظمي قاعدي مثالونه ئي چي د مفرد شکل ټول ږغونه په جمع کي هم راغلي وي، داسي دي:

أذن (غوږ) ــ آذان (غوږونه)
جسم ــ اجسام
انف (پزه) ــ انوف (پزي)
بطن ــ بطون

په دې پورتنیو مثالو کي د مفرد شکل ټول ږغونه په جمع کي هم سته. خو د " فم – mouth" په جمع " افواه – mouths" کي د میم او واو ابدال راغلی دئ او یو راز بې نظمي ( شذ العرف) واقع سوي دئ. علامه احمد بن محمد الحملاوی پر دغه راز بې نظمیو باندي یو مغتنم کتاب د " شذ العرف فی فن الصرف" په نامه په عربي ژبه کښلی دئ او د هغه په دریم باب کي ئي د " الاعلال والابدال" په فصل کي د " ابدال المیم من الواو" بحث راوړی دئ. زه که څه هم د عربي صرف په باب مسلکي پوهه نه لرم خو دا چي د میوند نوم ولي په میمند اوښتی دئ، زما په فکر یو عامل ئي د عربیت اغیزه ده. په غزنوي دربار کي زیاترو پوهانو د عربي ژبي د برلاسی هڅي کولي او ځیني کسان وایي چي د فردوسي له خوا د شاهنامي په کښلو کي یو مهم هدف د پارسي ژبي د اصالت خوندي کول او له عربیت سره مقابله وه. زه بیا هم په قاطعیت سره ویلای نسم چي د میوند او میمند په کلمو کي به د میم او واو ابدال د عربي صرف د" شذ العرف" پر قاعده برابر وي که نه.

د (anomaly ) عملیه په نورو علومو کي هم زیات مثالونه لري چي تشریح ئي زموږ د بحث موضوع نه ده.
دوهم ټکی د کندهار په میوند کي د خواجه احمد بن حسن د مقبري په باب شک ښوول دئ. ښاغلی جهاني لیکي :" که احمد میمندي په هرات کي وفات سوی وي نو تر میوند پوري د هغه جنازه لرِ تر لره په دوولسو یا دېرو ورځو کي وړل کېدله چي هم د اسلامي شریعت له مخي روا کار نه وو، ځکه چي مړی باید په هغه ورځ خاورو ته سپارل سوی وای او د هغه وخت د ټرانسپورټي شرایطو له مخي چنداني عملي کار نه وو او مړی هرو مرو خرابېدی." او له دې کمزوري استدلال څخه داسي قاطع نتیجه اخلي چي" ... نو له ورایه څرګندېږي چي په میوند کي تر ګنبدي لاندي پروت سړی هغه حسن میمندي نه دی چي د سلطان محمود او وروسته د هغه د زوی سلطان مسعود وزیر وو، بلکه کوم بل د خدای دوست به وو چي له خلکو څخه ئي یا نوم هېر سوی او یا ئي احمد میوندي بللی دئ."

زه چي د کمزوري استدلال خبره کوم، مراد مي دادئ چي د احمد بن حسن میوندي هیڅ سوانح نګار دا خبره نه ده کړې چي دده د وفات په هماغه ورځ ئي تر ذني ترلو وروسته سمدستي جنازه پر اوږو راواخیستله او میوند ته ئي راوړه. دونده ( دومره) قدر ویل سوي دي چي په هرات کي مړ سو او جنازه ئي زوی عبدالرزاق میمندي میوند ته راوړه. دا چي څو ورځي، څو میاشتي، څو کاله وروسته ئي راوړه، هیڅ مورخ څه نه دي ویلي. د مړي جنازه په هماغه ورځ خاورو ته د سپارل کېدو سپاربښتنه رښتیا هم په شریعت کي سوې ده خو د" امانت ښخولو" حکم هم په شریعت کي سته. څه معلومه ده چي عبدالرزاق میمندي دي خپل پلار په هرات کي امانت ایښی وي او وروسته ئي جسد میوند ته رانقل کړی وي. مګر د سید جمال الدین افغاني جنازه ئي له کلونو وروسته را انتقال نه کړه؟ زموږ مخي ته ئي د ارواښاد روهي صاحب جنازه له المان څخه خوست ته نقل نه کړه.؟مګر د بایزید روښان تابوت ئي زامنو د دښمنانو له ډاره څو میاشتي پر اوږو و نه ګرزاوه؟ مګر خپل هیواد ته د ارواښاد بېنوا صاحب د جسد د انتقال تلاښونه تر ننه لا هم روان نه دي؟ په هرات کي دده د وفات خبره هم د یوه روایت په توګه مطرح ده. کېدای سي دا روایت سم نه وي. که موږ د هر حادثي په باب دغه راز شک ښودني لار پرانیزو، یقین وکړئ چي د خپل مور او پلار مقبرې به هم څه وخت وروسته و نسو کولای په اثبات ورسوو.

د لوستونکو د معلوماتو له پاره باید ولیکم چي د احمد بن حسن میوندي د مقبرې د دغي اوسني ګومبتي تاداو د وزیر محمد ګل خان مومند په امر کېښېنول سو ، خو کار ئي تر ۱۳۲۶ش کال وروسته د کندهار د مشهور معمارباشي استاد نعیم جان مرحوم له بشپړ سو [7].

ددي بحث په اوږدو کي ښاغلی جهاني صاحب د " کندهار مشاهیر" ارواښاد مولف د " شهکار" لغت په اهانت آمیز کارولو سره ملامتوي او وایي چي ده له احمد حسن څخه " د کراماتو څښتن پیر او ولي جوړ کړی دئ." باید په ډېر احترام عرض کړم چي زه د ارواښاد محمد ولي ځلمي د کتاب مدافع نه یم، خو په دې مي هم سر خلاص دئ چي د مطرح خلکو او مشاهیرو مقبرو ته د زیارت درجه ورکول خورا ډېر مثالونه لري. سلطان محمود غزنوي په شرابخوری باندي مشهور سلطان دئ، خو اوس ئي مقبرې ته اولس د یوه ولي او بزرګوار په توګه عقیده لري. میرویس نیکه نه ولي وو، نه صاحبزاده. خو قبر ته ئي اوس اولس د توري غاړي او شري په ناروغیو اخته ماشومان وروللي او پر قبر


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ئي تارونه راتاووي او د ماشومانو په غاړو ئي ځړوي. زيارت ته ئي د يوه اولياء په توګه عام و خاص عقيده لري. خواجه احمد بن حسن ميوندي ته د بزرګۍ درجه ورکول د ارواښاد ځلمي"شهکار" نه دئ، بلکي د مرحوم ځلمي تر زماني نزدي لس پيړۍ پخوا عنصري بلخي د" سيّد احرار" په لقب نازولی دئ.

بدين صفات به ميمند باغ خواجه ماست
که کدخدای جهانست و سيّد احرار

د " احرار" کلمي لغوي معنا به " آزادګان" وي، خو دا لقب د خدای د نازولو له پاره زيات کار سوی دئ. د حضرت نورالدين عبدالرحمن جامی (۸۱۷ ــ ۸۹۸هـ ق ) پير او مرشد خواجه عبيدالله نوميدئ او لقب ئي " احرار" وو. د خواجه احرارږ مقام او منزلت به د قيامت تر ورځي پوري د هر سالک د درناوی وړ وي. دا چي ملک الشعراء عنصري بلخي دا لقب خواجه احمد ميمندي ته ورکوي، هسي تصادفي انتخاب نه دئ. هرومرو ئي په ده کي د خدای دوستی نخښي ليدلي وي.

ما دا حاضره څېړنه له چا سره د مقابلي يا مناظري په نيامت کښلې نه ده، بلکي مراد مي دادئ چي په دي شپو و ورځو کي زياتره کسان له ګمراهی څخه د آيندګانو د ژغورني په ادعا د سرسري تحقيق پر بنسټ کلي نتيجي بنا کوي او له ګمراهی څخه د ژغورني پر ځای ئي لا نور هم تيارو ته سوق کوي. زما په فکر زموږ له تاريخ، ادب، دين او مُسَلّماتو سره دغه شان چلند تاواني کار دئ. نور نو هر څوک پوه سه، خپل ئي رسالت.

آټاوا ــ کاناډا
د اګسټ شپاړسمه ۲۰۲۳ع

---

ماخذونه:


۱ ــ وګورئ : رشاد، عبدالشکور ( پوهاند)، د پښتو پخوانی الفبې، ۱۶ مخ، ۲۰۰۹ع، کندهار

۲ ــ د خيرالبيان بشپړ متن ( په ځلورو ژبو) ما د سالار جنګ موزيم د خطي نسخي پر بنسټ په ۱۳۹۶ش کال له کندهاره خپور کړ. ( م . هوتک)

۳ ــ اردبيل د پارس د آذربايجان يو ايالت دئ.

۴ ــ يزد د پارس د يزد ايالت مرکز دئ او له اصفهان څخه ئي د جنوب ختيځ لور ته فاصله ۲۷۰ کيلومتره ده.

۵ ــ فيروز آباد د شيراز جنوب ته د يوه ښار نوم دئ.

۶ ــ بهبهان د پارس د خوزستان ايالت يو ښار دئ. خوزستان د پارس په جنوب لويديځ کي د عراق سرحد ته څرمه پروت دئ.

۷ ــ رشاد، عبدالشکور ( اکادميسن)، د کندهار يادابنتونه، ۱/ ۱۷۹مخ، ۱۳۸۶ش


دا ليکنه ما څو اوونی پخوا کښلي وه. يو لړ حوادث او مصروفيتو ئي د نشرولو کار ځنډولی وو. ( م. هـ)




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکي په ځير و لولئ